# فیضانِ رجب

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوتِ اسلامی)
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فیضانِ رَجَب

**دُعائے عطّار**: یا ربّ مصطفٰی! عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوك چې دا رِساله "فیضانِ رَجَب" اولولي یا ئې واوري هغه ته د رجب ډير ډير برَکتُونه نصيب کړې او بے حِسَابه بخَښنه ئې اُوکړې.

اٰمِین بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

يو نيك بنده په خوب کښې يوه "خوفناکه بَلا" اُوليدله، په ويره ويره کښې ئې ترينه تپوس اُوکړو: ته څوك ئې؟ هغه خوفناکې بلا جواب وَرکړو: "زه ستا بد اعمال يَم" هغه ترينه تپوس اُوکړو: ستا نه دَ نجات څه ذريعه ده؟ جواب ئې ورکړو: په نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کثرت سره دُرود شريف وَئيل. (القول البدیع، ص۰)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مظلوم بنيرے [بَد دُعا]

صحابي اِبنِ صحابي، حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: زه د حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خِدمت کښې حاضِر وُوم، يو بوډا سړے تير شو چې هغه ړوند او ګوډ وُو د هغه نه مخکښې يو بل کس رَوان وُو، چې دې ئې په سختئ

سره په راښکلو رَوان کړے وو. حضرت عمر فاروق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې دا منظر اُولیدو نو اُوئې فرمائیل: ما د دې نه مخکښې داسې بد منظر نه وُو لیدلے. بیا د هغوئي په خدمت کښې **عیاض** نومي یو کَس د دې مُتَعَلِّق ټوله واقعه بیان کړه چې اَے اَمِیر المُؤمنین! د **صَبغاء** لَس ځامن وُو او زه د هغوئي د تره ځوئ وُوم، زما په ورُونړو کښې زما نه بغیر بل یو هُم نه وو پاتې. زه د صَبغاء د لَسو ځامنو یعني د خپل تره ځامنو سره په ګاونډ کښې اُوسِیدم، هغوئي به په ما باندې ظُلم و سِتم کولو او زما نه به ئې په ناحقه مال اخِستو، ما به هغوئي د **اللّٰه** پاك د قَهَر نه یَروَل، د خپلوئ او ګاونډ خاطر به مې ور اچولو چې په ما ظُلم مه کوئ خو دې خبرو زه د هغوئي د ظلم نه خلاص نه کړم، چنانچه
ما هغوئي په هُم هغه حال پریښودل، کله چې د حُرمت میاشت (یعني رَجَبُ الْمُرَجَّب) رَاغله نو ما هغوئي ته ښیرے اوکړې چې: اے **اللّٰه** پاکه! "زه ستا نه د زړه د اخلاصه دا سوال کووم چې د یو نه علاوه د صبغاء ټول ځامن هلاك کړې او هغه یو ړوند او ګوډ کړې او چې یو داسې کس وي چې هغه په ځان پسې راکاږي." په هُم هغه کال یو یو مړ کیدل شروع شو دغه شان نهه ځامن ئې مړه شو او یو باقي پاتې شو او هغه ړوند شو او ښپې ئې هم بےکاره شوې، خنګه چې تاسو اولیدلو، حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اُوفرمائیل: بےشکه دا یوه عجیبه واقعه ده. (کتاب البر والصله لابن جوزي، ص۹۷)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اُوکتل؟ د ظلم انجام څومره خوفناك دے. حضرت شیخ محمد بن اسماعیل بخاري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په **صحیح بُخاري** کښې لیکلي دي: د حضرت ابو موسٰي اَشعري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه رِوَایت دے: چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: بے شکه **اللّٰه** پاك ظالم له مُهلت وَرکوِي تر دې چې کله هغه اُونِیسي نو بیا ئې

نه پريږدِي. د دې فرمائيلو نه پس نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دولَسمِې سِيپارے د سُورَةُ الْهُود آيت نمبر۲ تلاوت كړو:

وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ اِذَآ اَخَذَ الْقُرٰى وَهِىَ ظَالِمَةٌ ؕ اِنَّ اَخْذَهٗٓ اَلِيْمٌ شَدِيْدٌ ﴿۱۰۲﴾

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: هم داسې نيسي ستا رب چې كله استوګني [يعني آبادئ] نيسي د هغوئي په ظلم باندې. بے شكه د هغه نِيول ډير سخت دَردناك دِي- (پ۱۲، هود۱۰۲)

ہمیشہ ہاتھ بھلائی کے واسطے اُٹھیں — بچانا ظلم و ستم سے مجھے سدا یارب
گناہ گار طلبگار عفو رحمت ہے — عذاب سہنے کا کس میں ہے حوصلہ یارب
کہیں کا آہ گناہوں نے اب نہیں چھوڑا — عذابِ نار سے عطار کو بچا یارب

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دُعاګاني قبلِيږي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د ذِكر كړے شوي واقعې نه دا هُم معلومه شوه چې د رَجَبُ الْمُرَجَّب په مياشت كښې دُعاګاني قبلِيږي، تارِيخ اِبن عَسَاكر په يو اُوكړِد رِوَايت كښې ذكر كړي دي چې: د جاهِليت په زمانه كښې به هم خلقو د دې مياشتې تعظِيم كولو، په خپل ځان باندې د شوي ظُلم په باره كښې به ئې ښيرے هله كولې چې كله به د رَجَبُ الْمُرَجَّب مياشت رَاغله، هغه به قبلولې شوې. (تاريخ ابن عساكر)

حضرت امام زكريَّا قَزوِينِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ډير احاديثِ مباركه د رَجَبُ الْمُرَجَّب په عظمت و شان باندې دَلالت كوي چې په دې كښې دعاګاني او عِبادتونه قبليږي. (عجائب المخلوقات، ص)

ہاتھ اُٹھتے ہی بر آئے ہر مُدَّعا　　وہ دُعاؤں میں مولا اثر چاہیے
اپنے عطار پر ہو کرم بار بار　　اِذن طیبہ کا بارِدِ گر چاہیے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# څلور مياشتې

رَجَبُ الْمُرَجَّب ډيره مبارکه مياشت ده. دا د حُرمت د څلورو مياشتو نه يوه مياشت ده چې د هغو عظمت و شان په قرآن و حدِيث کښې بيان شوے دے. صحابي اِبنِ صحابي عبدالله بِن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: "الله پاك په دُولسو مياشتو کښې څلورو مياشتو ته خصُوصِيت وَرکړے دے او د هغې حُرمت ته ئې عظمت وَرکړے دے او په هغې کښې ګناه کول ئې غټه ګناه قرار کړي دي." (تفسير ابن ابي حاتم،٦، رقم٧)

په لَسمه سِيپاره سورةُالتَّوبه آيت نمبر ٣٦ کښې الله پاك اِرشاد فرمائي:

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ یَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ مِنْهَاۤ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ ۙ۬ فَلَا تَظْلِمُوْا فِیْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ (پ۱۰: التوبه۳۶)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: بے شکه د مياشتو شمير د الله په نِزد دولس مياشتې دي، د الله پاك په کتاب کښې چې د کله نه ئې آسمان او زمکه پيدا کړي دي، په هغې کښې څلور د حُرمت والا دي دا نيغ دين دے، نو په دې مياشتو کښې په خپلو ځانونو باندې ظُلم مه کوئ.

تابعي بزرګ حضرت قَتادَه رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه فرمائي: د حُرمت (يعني عِزَّت والا) مياشتو کښې د نيك عمل اَجَر زياتيږي او د حُرمت والا مياشتو کښې ظلم و ګناه کول د نورو مياشتو په

نِسبت عظيمه ګناه شي اګر چې ظلم و ګناه په هر حال کښې لوئي دي. (تفسير بغوي)

## رَجَب ته رجب ولې وائي؟

خادِمُ النّبي، جنّتي صحابي حضرت اَنس بن مالك رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې عرَض اُوکړے شو چې (د دې مياشتې) رَجب نوم ولې کيښودے شو؟ اِرشاد ئې اُوفَرمائيل: ځکه چې په دې کښې د شَعبان او رَمَضان د پاره خَيرِ کثِير (يعني ډير زيات خير) زياتولے کيږي. (فضائلِ شهر رجب للخلال، ص)

## د رَجب يَو بَل نُوم

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دَ رَجَبُ الْمُرَجَّب د مياشتې يو بل نُوم "شَهرِ اَصَم" يعني کنړه مياشت هم دَه، چنانچه اعلٰي حضرت، امام اهلِسنّت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه "فتاوٰي رَضَوِيَّه" کښې فَرمائي: هره مياشت به د خپلو هر قسم واقِعاتو ګواهِي وَرکوِي سِوا د رَجب نه چې د حَسَناتُو (يعني د نيکو) بيان به کوِي او د سَيِّئاتو (بدُو) په باره کښې به وائي چې زه کنړه وُوم زه خبره نه يم، په دې وجه دې ته "شَهرِ اَصَم" (يعني کنړه مياشت) وائي. (فتاوٰي رضويه)

عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگا دے دِل
رجب کا واسطہ دیتا ہوں فرما دے کرم مولیٰ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ژبې حفاظت

عارِف بِالله شيخ ضياءُالدّين عبدُالعزيز ديريني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بعضې عُلمائے کرامو نه نقل کوي چې: په دَورِ جاهليت کښې به هُم خلقو (د رَجب په مياشت کښې) نيزے پټې

کړېِ او د جنګ نه به منع شو نو مسلمانان به په دې کښې د خپلو ژبو حفاظت ولې نه کوي؟ او د بے حرمتئ نه به ولې نه منع کيږي. بےشکه بعضې وخت ژبه د ښکاره ټورې او د نيزے د څوکې نه زيات نقصان ورکوونکې وِي. (طهارة القلوب، ص۱۲۵)

## يومِ قُفلِ مَدِينه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! که مونږ ته دَ ژبې قُفلِ مدينه لګوَل (يعني د ضرورت مطابق خبره کول) نصِيب شي نو د ډېرو آفتُونو نه به نجَات حاصل کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشِقانِ رسُول مَدَنِي تحريك دعوت اِسلامي دِيني ماحول کښې شامل ډېر خوش نصِيبه اسلامي ورونړه او اِسلامي خويندې "د ژبې قفلِ مدينه" لګوي او "يومِ قُفلِ مدِينه" هم نمانځي [يعني مناوهي]. هسې خو مونږ له د آخِري ساه پورې د ژبې، سترګو، غوږونو او خيټې حفاظت کوَل پکار دی، ژبه او غوږونه د ګناهونو او فضولو خبرو کولو او اوريدلو نه او سترګې د ګناهونو د مناظرو او فضول اخواه ديخواه کتلو او خيټه د حرامو او فضولو خوراکُونو نه ساتل پکار دي، د هرې مياشتې اَوَلَني پير شريف [يعني د ګل په ورځ] د دې عهد بيا د سَر نه تازه کوَلو د پاره او په دې باندې استقامت حاصلولو د پاره د دې په ياد کښې د شيخِ طريقت، امِيرِ اهلِسنّت حضرت علامه مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله "**خاموش شهزاده**" لوستل دي، ياد ساتئ! د قفلِ مدينه کله هُم دا مطلب نه دے چې ګنې څوک دِ جائزه خبره هم نه کوي لکه څوک چې سلام اُوکړي يا د پرنجې نه پس اَلْحَمْدُلِلّٰه اُووائِي يا دَ اذان آواز واوري نو جواب دِ ورکړي، تر دې پورې چې د کومو څيزُونو جواب وَرکوَل واجِب دي د هغې په جواب نه وَرکوَلو به ګنهګار وي. د ژبې قفلِ مدينه مطلب دا دے چې ژبه د فضولو خبرو نه بچ کول دي

ځکه چې د فضولو خبرو نه خاموشي ډيره ښه ده او د نيکۍ دعوت ورکول د خاموشۍ نه ډير ښه دي. کاش چې! د **بُخاري شريف** دا حديث زمونږ په ذهن و دماغ کښې پوخ کښيني، چې په هغې کښې دا هم دي: **مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ** يعنی ''څوک چې په **الله** او قيامت باندې ايمان لري هغه له پکار دي چې د خير خبره اوکړي يا دِ خاموشه اوسي-''

(بخاري ج٤، حديث ٦٠١٨)

رفتار کا گُفتار کا کردار کا دے دے — ہر عُضو کا دے مجھ کو خُدا قُفلِ مدینہ

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د خير کُنجي

اِمام ابُو حامِد مُحَمّد بن مُحَمّد غزَالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائِي: رَجب ته ''اَلْاَصَبّ'' (يعني تيز بهيدل) هَم وائي ځکه چې په دې مياشت کښې توبه کوونکو باندې دَ رَحمت بهيدل تيز شي او په عبادت کوونکو باندې د قبوليّت د انوارو فيضان کيږي. (مکاشفة القلوب، ص٣٠١)
حضرت علامه يوسف بِن عبدُالهادي حنبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ''دَ رَجب مياشت د خَير او ښيګړې کُنجي [چابي] ده.'' (اسلامی مہینوں کے فضائل، ص٣٠)

## د رَجب د مياشتې خواهش کوونکے بُزرګ

يو نيک عالِمِ دِين د رَجب نه مخکښې بِيمار شو نو اُوئې فرمائيل: ما د **الله** پاک نه دُعا کړې ده چې زما وفات دَ رجب د مياشتې پورې ورُوستو کړي، ځکه چې ما ته دا خبر رَارَسِيدلے دے چې **الله** پاک د رَجب په مياشت کښې بندګان (د دوزخ نه) آزادَوِي. چنانچه **الله** پاک هغوئي ته دَ رَجب مياشت نصِيب کړه او په هم دې مياشت کښې هغوئي

وفات شو. (لطائف المعارف، ص۱۳۸)

موت ایمان پہ دے مدینے میں	اور محمود عاقبت فرما
تُو شَرف زیرِ گُنبدِ خضرا	مجھ کو مرنے کا مرحمت فرما
سر فراز اور سُرخُرو مولیٰ	مجھ کو تُو روزِ آخرت فرما

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نيك كار په دَوران كښې وَفات

اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بيت! صحابه كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ به دا خبَره خوَښوَله چې د هغوئي وفات د يو ښه كار په دوران لكه د حج، عُمره، غَزوَه (جِهاد)،يا د رَمضَان د روژے وغيره په دوران كښې اُوشي. (صفة الصفوة لابن جوزي ۵۲)

## دُعائے مُصطَفٰے

خادِمُ النّبِي، جنّتي صحابي، حضرتِ انس بن مالك رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: كله به چې د رَجَبُ الْمُرَجَّب مياشت راغله نو رسولِ كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا دُعا فرمائيله: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَّشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ يعني اے **اللّٰه** پاكه! ته زمونږه د پاره په رَجَب او شَعبان كښې بَرَكت واچوې او مونږه رَمَضان ته اورسوې. (موسوعة ابن ابي دنيا ۱/۳۸۲، حديث ۱)

حكيم الامّت، حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې فرمائي: يعني د رَجب په مياشت كښې زمونږ په عبادتونو كښې بركت وَاچوې او په شعبان كښې مو خشوع و خضوع نصِيب كړې، او دَ رَمضان مياشتې حاصليدل او په هغې كښې روژے نيول او قيام كول رانصِيب كړې. صوفيائے كرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى به فرمائيل چې: رجب د تُخَم كرَلو مياشت ده، شعبان د اُوبو وَركولو

مياشت ده او رَمضان د فصل کټ کوَلو مياشت ده ځکه په رَجب کښې نوافِلو کښې ډير کوشش کوئ، په شعبان کښې په خپلو ګناهونو باندې ژاړئ او په رمضان کريم کښې د خپل رب د راضي کولو [د کوشش] په ذريعه دا پټے [يعني فصل] په خيريت سره کټ کړئ. (مراٰۃ المناجیح ۲/۳۲۶ بتقدم و تاخر)

عبادت میں، ریاضت میں، تلاوت میں لگا دے دِل
رجب کا واسطہ دیتا ہوں فرما دے کرم مولیٰ
براءَت دے عذابِ قبر سے، نارِ جہنم سے
مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولیٰ
میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرما دے کرم مولیٰ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اللّٰه پاك مياشت

د اللّٰه پاك آخري نبي، مکّي مَدَني عَرَبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: رَجَبٌ شَهْرُ اللهِ تَعَالٰى وَشَعْبَانُ شَهْرِيْ وَ رَمَضَانُ شَهْرُ اُمَّتِيْ يعني رَجَب د اللّٰه پاک مياشت ده او شَعبان زما مياشت ده او رَمَضان زما دَ اُمَّت مياشت ده. (مُسند الفردوس، ج ۲ ص ۲۷۵، حدیث ۳۲۷۶)

## د رَجَبُ الْمُرَجَّب اَوَله شپه

د اللّٰه پاك آخري نبي، مکي مدني مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: پينځه شپې داسې دي چې په هغې کښې دُعا نه رَد کيږي: (۱) دَ رَجب د مياشتې اَوَلنَۍ شپه (۲) د پينځلّسم شعبان شپه (يعني شبِ برات) (۳) د جُمُعے شپه (٤) د وړوکي اختر (عيد الفطر) شپه (٥) د عيد الاضحيٰ (لوئي اختر) (يعني د ذوالحجة لسمه) شپه. (تاریخ ابن عساکر ۱۰/۴۰۸، حدیث ۲۶۹۶)

## جنّت ته داخله

حضرت خالِد بن مِعدان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوك چې د رَجب دَ مياشتې دَ اَوَلَنۍ شپې تصديق كولو سره په نيّت د ثواب باندې په عبادت كښې تيره كړي او د ورځې روژه اُونِيسي نو **الله** پاك به هغه جنّت ته داخِل كړي. (فضائلِ شهرِ رجب للخلال، ص۱۰، غنية الطّالبين ۱/۳۲۴)

## د اِستغفار كثرت

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د رجب په مياشت كښې د اِستَغفار كثرت كوئ، بےشكه د دې په هر هر ساعت كښې **الله** پاك ډيرو ډيرو خلقو ته د اور نه نجات وَركوَي. (مسند الفردوس ۲/۳۳۶، حديث ۳۴۱۶)

مكّي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چې د رجب او شعبان په مياشت كښې ووه [7] ځله دا اُووَئيل: اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَيُّوْمَ، وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ تَوْبَةَ عَبْدٍ ظَالِمٍ لِّنَفْسِهٖ مَوْتاً وَّ حَيَاةً وَّلَا نُشُوْراً، نو **الله** پاك به په هغه باندې مُقررو دوارړو فرښتو (يعني كِراماً كاتِبِين) ته اِرشاد اُوفرمائي، د ده د ګناهونو صحيفه ورانه كړئ (يعني د ده د اعمال نامے نه ګناهونه ختم كړئ)- (الادب في رجب، ص۴۵)

د حضرت اشرف جهانګير سَمناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ملفوظاتو كښې دي: د رجب په مياشت كښې ډير اِستغفار كول پكار دي، څوك چې د رجب په مياشت كښې درې زره ځله داسې اِستغفار اولولي نو د هغه به بخښنه اُوشي: اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ مِنْ جَمِيْعِ الذُّنُوْبِ وَالْاٰثَامِ- (لطائف اشرفي ۲/۳۶)

حضرت **وَهْب بِن مُنَبّه** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دنيا ټول نهرونه د رجب په مياشت كښې د رَجب د تعظيم په وجه د زمزم زيارت كوِي او ما د **الله** پاك د كتابونو نه په يو كتاب

کښې لوستلِي دي چې کوم کس د رَجب په میاشت کښې سحر ماښام لاسونه اُوچت کړي او اَویا ځله داسې د مغفرت دُعا اوکړي اَللّٰھم اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَتُبْ عَلَیَّ ترجمه: ''اے الله! زما بخښنه اُوکړې، په ما رَحم اُوکړې او زما توبه قبوله کړې.'' نو د هغه بدن ته به کله هم اُور نه نزدې کیږي. (طهارة القلوب، ص۲۲)

یاخُدا میری مغفرت فرما | باغِ فردوس مرحمت فرما
تُو گناہوں کو کر مُعاف اللّٰه! | میری مقبول معذرت فرما
ہو نہ عطار حشر میں رُسوا | بے حساب اس کی مغفرت فرما

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نفل روژے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! څه نه څه د نفل روژو نیولو عادت هُم جوړَوَل پکار دي ځکه چې د دې ډیر لوئي اَجر و ثواب دے، او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د میاشتې نه مخکښې به د نفلي روژو سعادت هم حاصل شي او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د فرض روژو نیولو د پاره به د تولې ورځې د لوږې او تندې عادت هم جوړ شي، د دې نه علاوه د روژو نیولو جسماني طور هُم بیشمیره فائدے دي.

## د ټول کال روژے

نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بےشکه رَجب ډیره دَ عظمت والا میاشت ده چې په دې کښې د نیکو اَجر زیات کړے شي چا چې د دې میاشتې د کومې یوې ورځې روژه اُونیوَله هغه داسې دے لکه د ټول کال روژے چې اُونیسي. (میزان الاعتدال ج۳)

صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبدالله بن عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه تپوس اُوکړے شُو: آیا

نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په رجب كښې روژے نِيولې؟ هغوئي ارشاد اُوفرمائيلو: آو! او دې ته به ئې اهميّت هم وركولو. (كنزالعمال، جزء: ۲، [illegible]، حديث[illegible])

## جنّتي محل

حضرت سيّدُنا ابُو قلِابه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: دَ رَجب د روژه دارو د پاره په جنّت كښې يَو مَحَل دے. (شعب الايمان[illegible]، حديث[illegible])

حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ما ته دَ حُرمت (يعني عزّت) په مياشتو كښې روژے نيول زيات خوښ دِي او روايت دے چې كله د رَجب دَ اَوَلَنَئ جُمُعے دِريمه حصه تيره شي نو يوه فرشته هم داسې نه وي چې د رَجب د روژه دارو د پاره د بخښنې دُعا نه كوِي. (مكاشفة القلوب، ص[illegible])

## د جهنّم دروازے بندې

عارِف بِاللّٰه شيخ ضياءُالدّين عبدُالعزِيز ديريني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: رِوايت دے چې چا د رَجب ووه [7] روژے اُونيولې د هغه د پاره د جهنّم دروازے بندې كړے شي او چا چې لَس روژے اُونيولې هغه چې د **اللّٰه** پاك نه څه غواړي **اللّٰه** پاك به ئې وَركوِي او بےشكه په جنّت كښې يو مَحَل دے چې د هغې په وړاندې د دنيا مثال د مرغئ د يوے جالې په شان دے، هغه محل ته به صرف د رَجب روژے نيولو والا خلق داخليږي. (طهارة القلوب، ص[illegible])

## د رَجَب په اَوَلَنَئ شپه كښې وَفات كِيدَل

د حضرت علّامه اَبُوالحسن علي بن احمد يزدي بغدادي شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به دا مَعمُول وُو چې هغوئي به د رَجب روژے نِيولې. هغوئي به دا وصيّت كولو چې ما د وفات نه درې ورځې پس خخ كړئ ځكه چې چرې داسې نه وي چې هغه وخت زه په ''سَكته'' [يعني

بے هوشئ] كنبي يم- خو يو ځل ئي دَ رَجَبُ الْمُرَجَّب د رَاتللو نه يو څو ورځې مخكښې اُوفرمائيل: زه د خپل وصيّت نه رُجُوع كووم، ما د وفات نه پس فوراً خخ كړئ، ځكه چې ما په خوب كښې د آخِري نبي، مكي مدني، مُحَمَّدِ عَـرَبِـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار اُوكړو، نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماته اُوفرمائيل: يَا عَلِيُّ صُمْ رَجَباً عِنْدَنَا- يعنى "اے علي! دَ رَجب روژے زمونږ سره اُونِيسه. چنانچه هغوئي دَ رَجب په اَوَلَنَئ شپه وفات شو. (سير اعلام النبلاء ١٥ ملتقطاً) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږ بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جب تری یاد میں دُنیا سے گیا ہے کوئی　　جان لینے کو دُلہن بن کے قضا آئی ہے

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مدينے سفر

جنّتي صحابي، د مسلمانانو دويم خليفه فاروقِ اعظم او نورو صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ به د رَجَب په مياشت كښې عُمره كوَل خوښوَل. صحابيه بنتِ صحابي، اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا بي بي عائشه صدّيقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او حضرت عبداللّٰه بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به هُم دَ رَجب په مياشت كښې عُمره ادا كوله. مشهور تابعي بزرګ اِمام اِبنِ سِيرِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې زمونږ بزرګانو (يعني صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) به د رَجَبُ الْمُرَجَّب په مياشت كښې عُمره كوَله. (لطائف المعارف، ص١٣٠)

اِذن مل جائے گر مدینے کا　　کام بن جائے گا کمینے کا
اُس کی قسمت پہ رشک آتا ہے　　جو مسافر ہوا مدینے کا

تجھ پہ رحمت ہو زائرِ طیبہ ! جا، نگہباں خدا سفینے کا
ہم کو بھی وہ بلائیں گے اِک دِن اِذن مل جائے گر مدینے کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رجب كُونډے

**اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت**! د مشهور تابعي بزرګ، د اهلِ بيتِ اطهار روښانه شمع، حضرتِ امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اِيصالِ ثواب د پاره په كهير او پوري [يو قسم د ميدے غوړه نرئ د پراټے په شان روټۍ خيز] او خوږو ټيكلو وغيره باندې فاتِحه كيږي چې هغې ته **كُونډے** وائي دغه شان "**د تبارك روټۍ**"، باندې هُم فاتحه لوستلے كيږي. يقيناً د دې ټولو اَصل اِيصالِ ثواب دے او ايصالِ ثواب سل فيصَده جائز دے، هله چې په كومه معامله كښې د شريعت خلاف وَرزِي اونكړے شي. د رَجب په ټوله مياشت كښې بلكه په ټول كال كښې چې كله اُوغواړئ د ايصالِ ثواب د پاره د كونډو نياز كولے شئ، البتّه مناسب دا دې چې په 15 رجب "**دَ رَجب كونډے**" اُوكړے شي ځكه چې دا د "عُرس" ورځ ده څنګه چې په "**فتاوٰي فقيه ملّت**" جلد 2 صفحه 265 كښې دي: "د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نياز [يعني د ايصالِ ثواب خيرات] په 15 رجب كوئ ځكه چې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وصال په 15 رجب باندې شوے دے."

صدقِ صادِق کا تصدق صادِقُ الاسلام کر بے غضب راضی ہو کاظم اور رضا کے واسطے

**د شعر وضاحت**: **يا الله**! د امام جعفر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **صادق** (يعنى ربښتيني) كيدلو په خاطر ماته د ايمان سلامتي نصِيب كړې او د امام موسٰي كاظم او امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما په بركت زما نه بے غضبه راضي شې. (شرح شجره شريف، ص۳۰)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## معراجِ مصطفٰے

**اے عاشقانِ رسول!** د رجب په میاشت کښې یوه شپه داسې ده چې هغه د بیشمیره بَرَکَتونو، عظمتُونو، او فضِیلتُونو والا ده، په دې شپه باندې زمونږ خوږ پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د معراج عظیم الشّانه مُعجِزه وَرکړے شوي ده. حضرت علّامه احمد بن محمّد قسطلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بعضې عارفینو (یعني د الله پاك پیژندلو لرونکو بزرګانو) قول ذکر کوي، فرمائي: نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته 34 ځله معراج شوے دے، په هغې کښې یو د بدن (او رُوح) سره او باقي رُوحاني په خوبونو کښې شوي دي. (مواهب اللدنيه۲/۳۴)

ہیں صف آراسب حُور وملَک اور غِلماں خُلد سجاتے ہیں
اِک دھوم ہے عرشِ اعظم پر مہمانِ خُدا آتے ہیں
قربان میں شان وعظمت پر سوئے ہیں چَین سے بِستر پر
جبریلِ امیں حاضِر ہو کر معراج کا مُژدہ سناتے ہیں
جبریلِ امیں بُراق لئے جنت سے زمیں پر آپہنچے
بارات فِرِشتوں کی آئی معراج کو دولہا جاتے ہیں

## د معراج شریف انکار کول څنګه دي؟

**سوال:** د معراج شریف انکار کوونکي د پاره څه حُکم دے؟

**جواب:** د سفرِ معراج درې حِصّے دي (۱) اَسرٰي (۲) مِعراج (۳) اِعراج یا عرُوج. [ د سفرِ مِعراج] وړومبۍ حِصّه اَسرٰی د قرآنِ پاك د نَصِّ قَطعي نه ثابته ده: چنانچه پینځلَّسمه سیپاره سُورَةُ الۡاَسۡرٰی (دې ته سورة بني اِسرائیل هم وائي، د دې) په وړومبي آیت کښې الله پاك اِرشاد فرمائي:

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِہٖ لَیۡلًا مِّنَ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: پاکي ده هغه ذات لره چې په شپه شپه کښې ئې خپل بنده د

الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا الَّذِیْ بٰرَكْنَا حَوْلَهٗ لِنُرِیَهٗ مِنْ اٰیٰتِنَاؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْبَصِیْرُ۝۱

مسجدِ حرام (خانه کعبے) نه مسجدِ اَقصٰي (بيت المقدس) پورې بوتلو، چې د هغې نه مونږه ګيرچاپيره بَرَکت اينبودے دے چې مونږ هغه ته خپلې عظيمې نښې اُوښايُو، بےشکه هغه اَورِيدُونکے او لِيدُونکے دے. (پ۱۵، بني اسرائيل:۱)

حضرت عَلّامه مولانا سيِّد نعيم الدِّين مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: په اُووِيشتَم رَجب باندې مِعراج اُوشو. د مکے مُکَرَّمے نه د شپې په لږه حصه کښې بيتُ المَقدس پورې تشريف وړل د نَصِّ قرآني نه ثابت دي. د دې مُنکِر (انکار کوونکے) کافِر دے او د آسمانونو سفَر او منازِلِ قُرب ته رَسِيدل د احاديثِ صحِيحَه مُعتَمِده مَشهُوره نه ثابت دي، چې حدِّ تواتُر ته نزدې رسيدلي دي، د دې منکر (انکار کوونکے) ګمراه دے. معراج شريف د بيدارئ په حالت کښې د جِسم او رُوح دواړو سره واقع شوے دے، هُم دا د جُمهُور اهلِ اسلام عقيده ده او د صحابه کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمۡ ډيرې ډلې او لوئې لوئې صحابه کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمۡ د هُم دې مُعتقِد دي. (خزائن العرفان، ص[illegible]) عُروج يا اِعراج يعني د حضور نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سر په سترګو ديدارِ الٰهي کوَل او د عرش نه پورته د تللو منکر خاطي يعني خطاکار دے. (کفريه کلمات کے بارے ميں سوال و جواب، ص[illegible])

خِرد سے کہہ دو کہ سر جھکائے گُماں سے گُزرے گُزرنے والے
پڑے ہیں یاں خود جِہت کو لالے کسے بتائے کدھر گئے تھے

شرحِ کلامِ رضا: اعلٰي حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خپلې مشهورې ”قصيده

معراجيه"په دې شعر کښې فرمائي: اے د معراجِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سفر د خپل عقل په تله کښې تللو والا! خپل عقل ته اُووَايه! چې خپل سر د دې عظيم الشّانه مُعجِزې په وړاندې ټيټ کړي ځکه چې نبي کريم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه د خپل خالق و مالك بارګاه ته "لامکان" ته تشريف وړے وو چې هغه زمونږ په ګمان کښې نه شي راتلے ځکه چې هغه داسې مقام دے چې هلته مخکښې، وروستو، لاندې، پاس، اخواه، ديخواه، ټول طرفونه ختم شي بلکه ټپوله طرفونه حيران و پريشان دي چې حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم ځائے ته تشريف وړے دے. (لکه څنګه چې مخکښې شعر کښې ليکي:)

سُراغ اَین و مَتٰی کہاں تھا نشان کیف واِلٰی کہاں تھا
نہ کوئی راہی نہ کوئی ساتھی نہ سنگِ منزِل نہ مرحلے تھے

## د "رَجَب" د دِرې حُروفو په نِسبت درې احاديثِ مبارکه

﴿۱﴾ په رجب کښې يوه شپه او ورځ ده، چې څوك په هغه ورځ روژه اُونيسي او د شپې قِيام (يعني عبادت) اُوکړي نو داسې ده لکه هغه چې سل کاله روژے اُونيولې او هغه اُووِيشتم رَجب دے- (شعب الايمان،۳/۳۷۴، حديث۳۸۱۱)

﴿۲﴾ څوك چې د رجب د اُووِيشتمې ورځې روژه اُونِيسي، **اللّٰه** پاك به د هغه د پاره د شپيته مياشتو د روژو ثواب ليکي. (فضائل شهرِ رجب للخلال، ص۷۹)

﴿۳﴾ په رجب کښې يوه شپه ده چې په هغې کښې د نيك عمل کوونکي د پاره د سلو کالو ثواب ليکلے کيږي او هغه د رجب اوويشتمه شپه ده. څوك چې په دې کښې دولس رکعته داسې اوکړي چې په هر رکعت کښې سُوْرَةُ الْفَاتِحَه او کوم يو سورت او په هرو دوو رَکعتو اَلتَّحِيَّات اُووَائي او په دولسو پوره کيدلو سلام اُوګرځوِي، د هغې نه پس سل ځله

سُبْحٰنَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَر اُووَائي، سل ځله اِستغفار، سَل ځله دُرود شريف اُووائي او د خپلې دنيا او آخرت مُتَعَلِّق چې د څه څيز د پاره غواړي دعا دِ اوکړي او سحر دِ روژه اونيسي نو **الله** پاك به د هغه ټولې دعاګانې قبولې کړي، سِوا د هغه دُعا نه، کومه چې د ګناه د پاره وي. (شعب الايمان [illegible]، حديث [illegible])

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نيک او لمونځ ګزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکې د **دعوتِ إسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِکرِ مَدِينه"** په ذريعه د **مَدَني إنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي."** إن شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. إن شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com